ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

گڼه ۲۲

نېټه: شنبه، د ربيع الثاني ٦ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال






د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان لمريز کال د ميزان مياشتي په ۲٦مه نېټه د نفتو او گازو د کيفيت او په دې برخه کې شته ستونزو ته د حل لارو موندلو په اړه د اړوندو سکتوري وزارتونو، ادارو او ملي سوداگرو ترمنځ گډه غونډه ترسره شوه. ملي سوداگرو د نفت او گازو کيفيت د کنټرول، مالياتو، د شرکتونو د يوزرنيم، په هېواد کې د تېلو د تصفيه خونو او په گمرکونو کې شته ستونزې له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره شريکې کړې. دوی غوښتنه وکړه چې د هغو نفتو او گازو په برخه کې دې مراعات ورسره وشي چې په ډېره کمه اندازه يې کيفيت ټيټ دی. محترم ملا صاحب د نفت او گازو برخې ملي سوداگرو ته د ستونزو د هواري ډاډ ورکړ. سوداگري د هېوادونو له پاره د سترو اقتصادي سرچينو حيثيت لري، دا ځکه چې د نړۍ گوټ گوټ ته د توکو او خدماتو د لېږد بهير د دې لامل گرځي چې د يوه هېواد د ننه د توکو او خدماتو په پراختيا تمرکز وشي، لويې او کوچنۍ فابريکې جوړې شي، د منظم سيستم په چوکاټ کې کاري ځواک په کار واچول شي . دا وده د وخت په تېرېدو سره په نړيواله کچه د اقتصادي بدلونونو لامل گرځي، په دې ډول نه يوازې مطلوب هېواد په اقتصادي لحاظ وده کوي، بلکې دا ځواک د نړۍ نورو برخو ته هم لېږدول کېږي.

دا يو حقيقت دی چې سوداگري د يوه هېواد په اقتصادي پرمختگ کې مهم رول لري، خو هېڅ داسې هېواد به نه وي چې هلته دې يو سکټور له ستونزو خالي وي، ستونزې به وي، خو مهمه خبره داده چې حکومتونه يې د حل له پاره څه کولای شي؟ اسلامي امارت د سوداگرۍ په اهميت پوه دی او د پرمختگ له پاره يې اړين گامونه پورته کړي دي. امنيت يې خوندي کړی، اداري فساد، بيروکراسي يې له منځه وړې، مالي جرېمې يې معاف کړې، د لويو لارو رغونه يې پيل کړې ده او د سوداگرو پوره ملاتړ کوي. دا ټول د سوداگرۍ د پرمختگ او سوداگرو ته د اسانتياوو په مانا دي. نو څومره چې اسلامي امارت سوداگرو ته اسانتياوې برابرې کړې دي، ددې ترڅنگ له سوداگرو څخه هم هيله لري چې په معيار برابر باکيفيته توکي هېواد ته وارد کړي. ځکه د بې کيفيته توکو زيان عام ولس ته رسېږي، د بېلابېلو ناروغيو ترڅنگ چاپېريال هم ککړوي چې په راتلونکې کې ددې ستونزې جبران ناشونی دی. سوداگر بايد د اسلامي امارت مقررات رعايت او د خپلو شخصي گټو پر ځای ملي گټې په پام کې ونيسي. په دې صورت کې به سوداگرۍ پراختيا ومومي او اقتصاد به مو پياوړی شي.

## به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، نشستی مشترک در قصر مرمرین برگزار شد



به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، ۲٦ام میزان سال روان، نشستی مشترک میان وزارت خانه های سکتوری، ادارات و تاجران ملی در مورد کیفیت نفت و گاز و رسیده‌گی به مشکلات موجوده در این راستا در قصر مرمرین برگزار شد

در آغاز جلسه محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در اشاره به فعالیت های تاجران گفت که تجاران افغان نقش ارزنده ای در پیشرفت اقتصادی کشور داشته و هنوز هم بیشتر از این به فعالیت های خود در این زمینه ادامه می دهند. محترم ملا صاحب افزود، از همه تجاران ملی می خواهم در کار خود صادق بوده و علاوه بر سایر محصولات، نفت و گاز با کیفیت را برای حفظ محیط زیست و صحت مردم وارد کنند.

سپس تاجران ملی نفت و گاز از مسؤلین امارت اسلامی افغانستان بخاطر فراهم نمودن فضای امن تجارتی و حمایت همه جانبه از آنان ابراز تشکر نمودند. این تاجران ملی مشکلات مربوط به کنترول کیفیت نفت و گاز، مالیات، یوزرنیم شرکت‌ها، تصفیه خانه های نفت و گمرکات کشور را با محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در میان گذاشتند. آنها در حصۀ نفت و گازی که کیفیت آن کمی پایینتر می باشد، خواهان مراعات از سوی امارت اسلامی

گردیدند. به گفته آنها اگر این کار انجام شود از یک سو به اندازه کافی نفت و گاز وارد کشور می شود و از ســوی دیگر ضرری به تجار وارد نمی شــود. در پایان این نشســت، محترم ملا صاحب به تجاران ملــی نفت و گاز اطمینـــان داد و به وزارتخانه ها و ادارات مربوطــه امارتی بــرای یافتن راه حل های مناسب هدایت داد.





# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزانې نندارتون پرانیستل شو

په دغو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر مولوي عطاءالله عمري، بهرنیو ډیپلوماټانو، ملي سوداګرو، بزګرانو او ګڼ شمېر ملکي مسوولینو حضور درلود.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال ووېل، افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د رسمي شمېرو له مخې، شاوخوا ۶۸ سلنه خلک یې پر کرنه او مالدارۍ مصروف دي، چې متاسفانه لا هم له پخوانۍ سیستم استفاده کوي او کوم د پام وړ پرمختګ یې نه دی کړی.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، چې زموږ بزګران پر کرنه سربېره د اوبولګونې پخوانۍ سیستم استفاده کوي او همدا وجه ده چې له خپلې اړتیا د زیاتو اوبو په مصرفولو سره سره بیا هم د پام وړ کرنیز محصولات نشي ترلاسه کولی. د محترم ملا صاحب په خبره، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مکلفیت لري چې د کرنې د میکانیزه کولو او د اوبولګونې د معاصرو سیستمونو د عاملولو او تطبیق په اړه بزګرانو ته ټولې اړینې اسانتیاوې رامنځته او په دغه برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

محترم ملا صاحب په کور دننه د کرنیزو محصولاتو د جذب او سالم مدیریت په اړه ټینګار وکړ او په دې اړه یې اړوند وزارتونه او اداري مکلفې وبللې، څو د کرنیزو محصولاتو د ښه جذب او په وخت تر مارکېټ پورې د رسولو په موخه د ترانسپورټ، سړو خونو، بسته بندۍ، په کور دننه او بهر کې ورته بازارموندنې په اړه اړین سهولتونه رامنځته کړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په ټولو هېوادوالو او په ځانګړي ډول حکومتي ادارو غږ وکړ چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو پر مهال دې له کورنیو کرنیزو محصولاتو څخه استفاده وکړي.

د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزانې نندارتون د کابل په بادام باغ روزنیز او تولیدي فارم کې د کرنیزو محصولاتو د ملاتړ او په کور دننه او بهر کې ورته د بازارموندنې په موخه جوړ شوی، چې په سلګونو غرفو کې بېلابېل کرنیز محصولات پکې نندارې ته وړاندې شوي.



# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه جوړه شوه



د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې تر هراړخيز بحث وروسته د وړانديز شوو تعديلاتو په نظر کې نيولو سره د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې کړنلاره تاييد شوه. د بين‌الوزارتي کمېټې د رامنځته کېدو موخه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب د بهير چټکتيا، د پانګونې د طرحو په طی‌مراحلو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنځ همغږي، د پانګونې لپاره د مناسب چاپېريال او د چارو د ښه مديريت زمينې برابرول او په افغانستان کې د پانګونې پروژو په اړه پانګوالو ته د لازمو معلوماتو چمتو کول دي.

په ناسته کې تر هراړخيز بحث وروسته د کابل ښار په يوولسمه ناحيه کې د عامه- خصوصي سکټور له لورې د جهان پارک د جوړولو طرحه په پرنسيپ کې تاييد شوه او کابل ښاروالۍ ته دنده وسپارل شوه څو له قراردادي شرکت سره يوځل بيا د قرارداد د وخت او ځينو نورو اړينو مسايلو په اړه تخنيکي ناسته وکړي. د دغه طرحې له مخې د خصوصي سکټور په ۱۵۰ جريبه ځمکه کې د ۹۶۰ ميليونه افغانيو په ارزښت پانګونه کوي، چې د عوايدو ۳۵ سلنه به کابل ښاروالۍ ته ورکوي. د دغه طرحې له مخې به ياد پارک د ۳ کلونو په موده کې بشپړ او د ښاري اصولو سره سم به ټول اړين سهولتونه ولري.

همدارنګه په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه چې په کور دننه د مالګې د توليد، پروسس او د خپلې اړتيا د پوره کېدو په موخه دې د کانونو او پټروليم وزارت د مالګې د توليد او پروسس د کورنيو فابريکو لپاره په خامو موادو رويالټي راکمه کړي، د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې د اړوندو ولايتونو په صنعتي پارکونو کې ځمکې ورکړي او په معيار د برابرو کورنيو توليدي فابريکو په ګډون دې د ټولو فابريکو هراړخيز ملاتړ وشي او هغه فابريکې چې په معيار برابرې نه دي، مکلفې دي کړل شي چې په لنډ وخت کې ځانونه په معيار برابرې کړي څو هېواد د مالګې په برخه کې له کورنيو سرچينو خودکفايي ته ورسېږي. همدارنګه د خوړو او درملو ملي اداره مسئوليت لري چې بازار ته د بې کيفيته مالګې د وړاندې کېدلو مخنيوی په کلکه وکړي.

همدا راز د ناستې په پای کې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو د اوبو بندونو او سيندونو د بستر د حريم اړوندو ملکيتونو د تثبيت او خونديتوب لپاره يوه جامع طرحه جوړه او د اقتصادي کمېسيون راتلونکي مجلس ته يې وړاندې کړي.

# در شهر کابل تا اکنون ۴۳۶۶۰ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۳۶۶۰گدا تا ۲۵ میزان سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۳۲۲ زن ، ۶۷۳۴مرد و بقیه ۲۲۶۰۴طفل می باشند.

در میان این اطفال ۷۲ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.





# مکثی بر اهمیت قرارداد فابریکه های سمنت در کشور

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

مسلم است که از جمله موادی مورد استقبال در صنعت ساخت و ساز، استفاده از سمنت می‌باشد. این محصول با مزایای فوق‌العاده از جملهٔ مهم ترین پوشش‌ها در صنعت مسایل عمرانی به شمار می‌رود . اکنون در اطراف و اکناف جهان برای اعمار و احداث تأسیسات از این ماده پر اهمیت استفاده می شود. کشور های که معادن این پدیده مشحون از اهمیت را دارند با تولید و صادر نمودن آن توانسته اند به مدارج عالی ترقی نایل گردند زیرا هیچ جامعه را نمی توان سراغ کرد که نیاز به این مواد مملو از اهمیت در عرصه ساختمانی را نداشته باشد. خوشبختانه که کشور ما افغانستان در کنار داشتن منابع طبیعی و ذخایر معدنی سرشار از این داشته ای پر ارزش نیز مستفید می باشد. امارت اسلامی افغانستان با در نظرداشت مبرمیت موضوع در پی آن است تا به قرارداد سپردن پروژه های سمنت و تولید آن خدماتی شایانی را در حصه تقویت اقتصاد کشور و مردم رنج دیده‌ای این مرز و بوم انجام دهد، که به همین هدفمندی قرارداد سه پروژه سمنت کشور را با شرکت های مختلف به امضاء رسانیده است. در این نوشته نظر اجمالی بر قرارداد این پروژه ها و اهمیت اقتصادی آن خواهیم داشت.

## اهمیت سمنت و قرارداد فابریکه های تولیدی آن

سمنت "Cement" کلمه فرانسوی است و به ماده ای اطلاق می شود که روی سطح اجسام جامد اعمال می‌شود تا آنها را محکم به هم بچسباند یا به عبارت دقیق‌تر، ماده پودری است که پس از مخلوط شدن با آب به حالت نرم و خمیری در آمده (که پس از خشک شدن سخت می‌شود) و برای چسپاندن سنگ‌ها، آجرها، بلوک‌ها و غیره در امور ساختمانی استفاده می‌شود. سمنت می‌تواند به عنوان مواد چسپنده‌ای تعریف شود که قادر است قطعات یا توده‌های مواد جامد را به یکدیگر متصل کرده و یک مجموعهٔ فشرده ایجاد کند. از اینرو این ماده پیرامون مسایل عمرانی از اهمیت بسزایی برخوردار بوده و جز لاینفک آن بوده است. این ویژه‌گی سمنت سبب آن گردیده تا با ارزشی که دارد نه تنها در حصه ساخت و ساز تأسیسات گوناگون در داخل کشورها بلکه با صادرات آن پول هنگفتی در خزانه های کشور های دارنده این ماده پر اهمیت سرا زیر گردد. امارت اسلامی افغانستان با توجه به اهمیت موضوع و جستجوی دریچه ها و مجراهای که بتواند، اقتصاد ضعیف کشور را تقویت نماید و موازی به آن، مردم ما وضعیت بهتر رفاهی داشته باشند، شب و روز به طور خستگی ناپذیر در پی کار اند که اینک به این سلسله، قرارداد سه پروژه‌ای سمنت (جبل السراج ولایت پروان، هرات و کندهار ) را با شرکت های مختلف به امضاء رسانده است. چنانچه فابریکه تولید سمنت جبل السراج را با یک سرمایه گذار قطری به قرارداد سپرده است. ارزش قرارداد سمنت جبل السراج به اضافه تر از ۲۰۰ میلیون دالر میرسد و به اساس معلومات وزارت معادن و پترولیم تولید سالانه آن به یک میلیون تن سمنت بالغ می گردد. پیرامون این پروژه وزیر معادن و پترولیم گفته است که سمنت این فابریکه برابر به معیار های جهانی خواهد بود و از نگاه سمنت افغانستان را نه تنها به خود کفایی خواهد رسانید، بلکه صادرات نیز خواهیم داشت. شیخ شهاب الدین دلاور، وزیر معادن و پترولیم، در نشست امضای قرارداد پروژه سمنت ولسوالی جبل السراج ولایت پروان گفت که به مصرف بیش از۲۰۰ میلیون دالر در این پروژه سرمایه‌گذاری می شود و برای حدود ۵۰۰۰ تن زمینه کار فراهم خواهد شد. به همین شکل وزارت معادن و پترولیم قرارداد سمنت هرات را به ارزش ۱۴۲ میلیون دالر با شرکت داخلی گلبهار گروپ منعقد نموده است. این پروژه برای مدت ۳۰ سال به قرار داد سپرده



شده که در این پروژه برای ۵ هزار تن زمینه کار مساعد می شود و به همین منوال تولید روزانه آن صدها تن خواهد بود. همچنان در مراسمی که به همین مناسبت تدویر گردیده بود، معاون کمپنی گلبهار گروپ نیز امضای این قرارداد را یک گام مهم بنیادی و اقتصادی برای پیشرفت و ترقی افغانستان دانسته از فراهم بودن زمینه مناسب سرمایه گذاری بالای منابع معدنی کشور از رهبری وزارت معادن و پترولیم اظهار سپاس و قدردانی نمود. همچنان این وزارت، پروژه سمنت ولایت کندهار را به یک شرکت خصوصی سپرده است. این وزارت می‌افزاید که شرکت قراردادی ۱۰۰ میلیون دالر در این پروژه سرمایه‌گذاری می نمایند و در یک روز صدها تُن سمنت تولید می کند این مقدار تولید می‌تواند بخش زیادی از نیازمندی های افغانستان را تأمین کند. قابل یاد آوری‌است که در مجموع مبلغ ۴۶۲ میلیون دالر امریکایی در سه پروژه سمنت ولایت های پروان(جبل السراج)، هرات و کندهار سرمایه گذاری می شود که برای ۱۵۰۰۰ نفر به صورت مستقیم زمینه کار فراهم می گردد. منعقد شدن این قرارداد ها و سپس تولید آن به پیمانه وسیع، نقش بسزای در تقویت اقتصاد کشور خواهد داشت، چنانچه قرار احصائیه وزارت معادن و پترولیم تولید روزانه سمنت فابریکه هرات، کندهار و پروان به هزاران تن می رسد که به این حد تولید نه تنها نیازمندی سمنت را در داخل کشور مرفوع می سازد، بلکه صادرات نیز خواهیم داشت، که این خود در حصه بهبود وضعیت اقتصادی کشور و مردم ما نقش بارزی داشته و کشور ما را گام به گام به سوی خودکفایی خواهد کشاند از سوی دیگر در این سه پروژه تولید سمنت زمینهٔ کار برای ۱۵۰۰۰ تن از هموطنان ما فراهم می گردد که این مسئله اثرات مثبتی بالای کاهش سطح بیکاری داشته و از طرف دیگر زمینه فراهم آوری لقمه نانی برای شماری از شهروندان ما خواهد بود. امارت اسلامی به روند قرارداد سپردن پروژه های سمنت در کشور توجه داشته و جهت رشد و توسعه اقتصادی کشور زمینهٔ سرمایه گذاری در پروژه های سمنت سمنگان،سمنت بلخ و همچنان در برخی سایر پروژه ها فرصت های سرمایه گذاری را مساعد نموده است، که با قرارداد این پروژه های سمنت ان شاء الله یکی از کشور های صادر کننده سمنت خواهیم بود و از این رهگذر عواید هنگفتی خواهیم داشت.




## نتیجه گیری

از مفاهیم که جسته جسته گفته شد بر میاید که سمنت از جمله موادی مورد استقبال در صنعت ساخت و ساز بوده و این محصول با مزایای زیادی که دارد، همواره مورد استفاده در عرصه های مختلف ساختمانی می باشد. سمنت تولید افغانستان، یکی از مواد با کیفیت ساختمانی می باشد که در منطقه نظیر ندارد. سمنت افغانستان از لحاظ کیفی زبان زد عام و خاص در بازار ها بوده و جایگاه خاص خودش را دارد.کشور های که معادن و فابریکه های از این پدیده مشحون از اهمیت را دارند با تولید و صادر نمودن آن توانسته اند به قله های شامخ ترقی فایق آیند. امارت اسلامی با در نظرداشت اهمیت بارز آن سعی می کند تا از طریق به قرارداد سپردن فابریکه ها و پروژه های سمنت در کشور به رشد و توسعه اقتصادی پرداخته و به این وسیله بتواند اقتصاد کشور را تقویت و سطح زنده گی مردم بهبود بیشتر پیدا کند که به این هدفمندی چندی پیش فابریکه های سمنت جبل السراج ولایت پروان و هرات را به قرارداد سپرده است، همچنان قرارداد پروژه سمنت کندهار نیز چندی پیش منعقد گردید که با تولیدات آن افغانستان از نگاه داشتن سمنت خودکفا خواهد شد و نیز برای اضافه تر ۱۵۰۰۰تن در این سه پروژه زمینه کار مساعد خواهد گردید که این مسئله نقطهٔ عطف در تقویت اقتصاد کشور می باشد.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سراي کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پیرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ؋۷۴,۶۰ | ؋۷۴,۶۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۶۶ | ؋۲۶۷ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۵۳ | ؋۱,۵۵ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۸۰,۰۰ | ؋۸۰,۵۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۱,۲۰ | ؋۱,۳۰ |

| اندازه | پولي واحد | پیرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۹۸۰ | ؋۱۰۲۰ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۹۲.۰۰ | ؋۹۲.۵۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۲۳,۵۵ | ؋۲۳,۶۵ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲۴,۳۰ | ؋۲۴,۴۰ |
| ۱ | چیني ین | ؋۱۶,۵۰ | ؋۱۶,۶۰ |